# پیشرو

بنیانگذار: زنده یاد داد نورانی

شماره ۴۶ دلو ۱۳۹۱ | زیر نظر هیئت تحریریه | تماس: ۰۷۹۹۸۰۷۹۷۸



**معلولان، ابزار جهادبازان و انجوها** ص ۲

**احمد کایا، د ترکیې د پرمختللي، ژمن او ...** ۵ مخ

**یکاولنگ خون می گرید** ص ۴

**فرار از کشور با حضور «جامعۀ جهانی» !** ص ۳


## «امنیتي تړون» د اسارت بله کړۍ

د روان کال په مې میاشت کې د افغانستان او امریکا د ولسمشرانو تر منځ د ستراتیژیکو همکاریو تړون لاسلیک شو، چې د دغه سند پر بنسټ، دواړه هیوادونه به له ۲۰۱۴ کال وروسته، د امنیتي همکاریو تړون لاسلیک کوي.

وړاندې له دې چې د دواړو هیوادونو تر منځ د ستراتیژیکو همکاریو تړون لاسلیک شي، د حکومت لخوا رابلل شوې لویې جرګې ورته د خاورې د پلورلو په بدل کې د لاسلیک کولو «مشروعیت» ورکړ، ځکه د جرګې ټول غړي هغه کسان وو چې د امریکا تر اسارت لاندې ژوند ته په نیکه سترګه ګوري او شتون یې په افغانستان کې د «تمدن» په لور ګام بولي.

اوس هم چې د امنیتي تړون د لاسلیک کولو خبره بیا ګرمه شوې ده، کرزي د دغه تړون د لاسلیک کولو په هکله په خپلو وروستیو څرګندونو کې وویل چې هغه به د امریکا او افغانستان تر منځ د امنیتي تړون د لاسلیک کولو لپاره لویه جرګه راوبلي او د ملت له «استازو» څخه به وغواړي څو د امریکایي سرتیرو د قضایي خوندیتوب په اړه ورته اجازه ورکړي ! ولسمشر زیاته کړه چې هغه ډاډمن دی چې «استازي» به د دې کار لپاره اجازه ورکړي !

امنیتي تړون چې په حقیقت کې د ستراتیژیک تړون دوام دی، له ۲۰۱۴ کال وروسته په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د شتون لپاره «قانوني» لاره هواروي. جیمز وارلیک چې د تړون د لاسلیک کولو لپاره د امریکایي پلاوي مشري په غاړه لري، ویلي دي: «دغه سند به افغانستان کې د امریکایي پوځي ځواکونو د شتون د دوام لپاره د افغانستان د دولت په موافقې قانوني اډانه چمتو کوي.»

د امریکا او افغانستان تر منځ د «ستراتیژیک تړون» له لاسلیک وروسته، د افغانستان ختیځ سیمې د پاکستاني پوځیانو لخوا د سلګونو توپونو تر برید لاندې راغلې چې په ترڅ کې یې لسګونه هیوادوال شهیدان او سلګونه کورنۍ له سیمې وتښتیدې، خو امریکا له افغانستان څخه «دفاع» ونکړه ځکه د دواړو هیوادونو تر منځ د «ستراتیژیک تړون» سند د دوړو لاندې ورک شوی و !

نه «ستراتیژیک تړون» او نه «امنیتي تړون» چې د یوه بل بشپړ کوونکي دي، زموږ د ولس پر ټپونو پټۍ ایښوداى شي، ځکه بهرني هیوادونه او په ځانګړي ډول امریکا او نورو سترو ځواکونو د دې لپاره زموږ پر هیواد یرغل کړی نه دی، چې موږ ته سوله، سوکالي، دموکراسي، د بشر حقونه او نور راولي، بلکې هر یو یې خپل ځانګړي لوټ کوونکي ستراتیژیک اهداف او موخې تعقیبوي، او د دې کار لپاره په افغانستان کې ملیاردونه ډالر لګوي او خپل سرتیري قرباني کوي.

امریکا هغه ستر پانګه وال هیواد دی چې خپل ټول تاریخ یې له یوې ورځې جګړې پرته تیر کړی نه دی. دغه ټولې جګړې چې زیاته برخه یې د ستراتیژیکو موخو

۷ مخ

## روسیه، مخالف پایگاه های دایمی امریکا در افغانستان!

در مدت بیشتر از یک قرن سه امپراتوری قدرتمند جهان بخت و زور خود را بر سر اشغال افغانستان آزموده اند و هر کدام در ابتدا به تصور اینکه با کشور عقب مانده و فقیری مواجه هستند، به کشور ما هجوم آورده اند. این غول های بزرگ که بنا به خصلت استعماری و ستراتژی های چپاولگرانه با هزاران سرباز تا دندان مسلح با عنوان کردن دوستی و برادری و اهداف انساندوستانه و از این قبیل ترفندها، داخل افغانستان شده اند، ولی به زودی چهرۀ واقعی خود را نشان داده و هر حرکت مخالف را تحت عناوین مختلف به خاک و خون کشیده و سرکوب نموده اند.

تفاوت هایی را از لحاظ شکلی میان اشغالگران قبلی و فعلی می توان دید. اشغالگران قبلی هر یک با یکه تازی و قدرت نظامی قوی خود به کشور ما حمله نموده و خواستند به تنهایی به اهداف خود دست یابند، در حالیکه در اشغال فعلی ایالات متحدۀ امریکا با کشاندن پای سایر امپریالیست ها و مزدوران خود در یک جبهۀ واحد و در تبانی و زدوبند میان هم با مجوز شورای امنیت ملل متحد، تحت عنوان «جنگ علیه تروریزم»، آوردن «دموکراسی»، «حقوق زنان» وغیره وارد کشور ما شده اند تا از یکسو بار جنگ و مخارج دیگر در افغانستان را مشترکاً بپردازند و از طرف دیگر امتیازات خرد و کوچکی برای شان داده و آنها را بر محور سیاست های خود با خود نگه دارند.

با اشغال افغانستان توسط امریکا و متحدان ناتویی اش، هر کدام از این کشورها که در نقاط مختلف افغانستان مستقر گشته و به شکلی از اشکال در کشتار مردم ما دست داشته اند، اما چیز زیادی از اشغال افغانستان نصیب نگشتند و بیشتر تطبیق کنندۀ سیاست های امریکا

ص ۶

## افغان میرمنې د تاوتریخوالي په منګولو کې



په افغانستان کې د ښځو په وړاندې تاوتریخوالي په داسې حال کې ورځ تر بلې په زیاتیدو دی چې بې شمیره کورنۍ او نړیوالې اداري او بنسټونه د دغه ناوړه سلوک د له منځه وړلو لپاره د تیرو دري لسیزو او په تیره بیا د تیرو دولسو کلونو را په دې خوا په لکونو او ان میلیونونو ډالرو فنډ اخلي. د بیلګې په توګه د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمیسیون د معلوماتو پر بنسټ، د تیر کال پرتله د ښځو ضد تاوتریخوالي او ناوړې سلوک په سلو کې ۲۵ زیات شوی دی. په دغه راپور کې راغلي چې د ښځو پر وړاندې هره ورځ د جنایتونو درې قضیې چې دوه یې جنسي تیری دی، تر سره کیږي. هره ورځ د افغانستان له بیلابیلو سیمو څخه داسې زړه بوږنوونکي راپورونه رسنیو ته رسیږي چې د ښځو ضد جنایت په کې په بربنډه توګه لیدل کیږي. کله ښځه په ډیرې بې رحمۍ سره له ټولیز تیري سره مخامخ کیږي، کله ځان وژلو او ځان سوځلو ته اړ کیږي او کله یې هم غوږونه او ژبه پرې کیږي او کله هم سنګساریږي. د ښځو د زده کړې، له کور نه بهر کار کولو، روغتون ته تللو، په خپله خوښه واده کولو او داسې نورو آزادیو مخه نیول او محدودول د ښځو

۶ مخ

# معلولان، ابزار جهادبازان و انجوها

بهرام آمونیایی

جنگ و جهاد در افغانستان برای اقلیت فاسد، مزدور، خاین و عوام فریب سود افسانه ای داشته اما اکثریت مردم جز تباهی، فقر، بیکاری و بحران بهره ای از آن نگرفته اند. نابودی زیربناها، چند میلیون کشته و بیش از ششصد هزار معلول تنها سهم افغانستان و فرودستان آن از جنگ و جهاد گذشته و حال بوده است.

آنانی که امروز از راه جهاد و جهادبازی بر کرسی های بلند دولتی لم داده اند و صاحب سرمایهٔ میلیاردی شده اند، اکثریت ناآگاه فرودست را که هیزم سوخت جهاد و «مقاومت ملی» بازیگران خرد و بزرگ بودند و صادقانه به آنان سربازی کردند، به حال خود رها کردند. تجاوز شوروی بر افغانستان کم نبود که جنگ کثیف تنظیمی نیز از راه رسید و تنها در کابل نزدیک به هفتاد هزار تن را کشت و صدها هزار تن دیگر را معلول کرد. جنگ ائتلاف شمال و طالبان و سپس جنگ روان طالبان و امریکا در افغانستان نیز کشته و معلول زاییده و میزاید. اما، وقتی موضوع رسیدگی به حقوق از دست رفتهٔ معلولان و بازماندگان خانواده های کشته شدگان جنگ ها و زندگی ناگوار آنان پیش می آید، آب از آبی نمی جنبد؛ از سنگ صدا بیرون می آید ولی از رهبران و قوماندان های جهادی که جنگ های کثیف آنان برای قدرت این همه کشته و معلول زاییده، صدایی شنیده نمی شود. در حالیکه اگر مسئله پول زنی، پروژه گیری، استفاده جویی، عوام فریبی و داغ کردن جنگ قدرت و رقابت های تنظیمی و سیاسی در میان باشد، هر مدعی جهاد بیشترین سهم خود را از نمد «شهیدان» و معلولان می گیرد و کارزار تبلیغات «شهید»گرایی و معلول بازی داغ و داغتر میشود.

شهروندان عادی افغانستان که دست، پا و سایر اعضای بدن شان را در جنگ های تنظیمی و اشغالگرانه از دست داده و میدهند، افزون بر جهادبازان، ابزار پول یابی، پروژه، فندگیری و وندزنی انجوها نیز شده اند؛ نهادهایی که در ظاهر، آیین نامه هایشان پر از اهداف هومانیستی، توده ای و بسیار بسیار عدالت خواهانه است.

از سال دو هزار و یک بدینسو که کمک های خارجی به افغانستان سرازیر شد، انجوها به عنوان ابزار امپریالیزم برای اعمال نفوذ و آژیتاسیون سیاسی ـ فرهنگی در کشور رشد سمارقی پیدا کرد و تا کنون صدها انجو به اشارهٔ مستقیم دولتهای امپریالیستی در افغانستان ایجاد شده است. این بنگاه ها در واقع ابزار پول زنی، فساد و استفاده جویی از حقوق زنان، کودکان، جانباختگان، معلولان و معیوبان در کشوری میباشد که دولت اش نیز دومین دولت فاسد در جهان است. انجوها زیر نام دفاع از حقوق جانباختگان و معلولان پول های کلانی را میگیرند اما با چند نمایش رسانه ایی مسخره، گویی نشان میدهند که در دفاع از حقوق جانباختگان و معلولان از دیگران پیشی گرفته اند. در حالیکه این انجوها بزرگترین خیانت را با راه اندازی تحصنی در برابر سفارتخانه های دولت های غربی و درخواست از آنان برای دادگاهی کردن عاملان جنگ و معلولیت، انجام داده اند؛ دولت هایی که خود بیشترین سهم را در جنگ گذشته در افغانستان داشته اند و همین اکنون نیز زیر نام جنگ علیه ترور به کشتار و معلول ساختن شهروندان افغان ادامه میدهند.

معلولان در خانواده، جامعه و نهادهای دولتی از پرستیژ و حقوق برابر با دیگران برخوردار نیستند و با تبعیض شخصیتی روبرو میشوند. معلولان در خانواده و جامعه مورد توهین و آزار قرار گرفته و غرور و حیثیت شان سرکوب میشود. بنابر این، بیشتر معلولان در عین حال که از نظر جسمی معیوب هستند، به بیماری های روانی نیز دچار اند.

دولت افغانستان هم به علت وابسته بودن به خارجی ها و گروگان در دست گرگان نسبت به معلولان برخورد تبعیضی دارد؛ بودجهٔ معینی برای معلولان اختصاص نیافته و ارگان مستقلی نیز به هدف رسیدگی به وضعیت زندگی آنان تشکیل نشده است. تنها بخشی در وزارت کار و امور اجتماعی به نام معینیت امور خانواده، شهیدان و معلولان است که آنهم برنامه های همگانی و فراگیر ندارد و افغانستان شمول نیست. دولت کابل، برای هر معلول ماهانه یک و نیم هزار افغانی حقوق تعیین کرده که حتا پول کرایهٔ خانهٔ وی را بسنده نمی کند، چه رسد به غذا، پوشاک و سایر نیازهایش. این در حالیست که از سال دو هزار و یک تا کنون میلیاردها دالر کمک خارجی به افغانستان سرازیر شده اما بیشتر آن از سوی مقامهای بلندپایهٔ دولتی، انجوها و خارجی ها حیف و میل شده و به تاراج رفته است. دولت پوشالی و انجوها در سرزمینی با سرنوشت مردم بازی کرده اند که باشندگانش از گرسنگی فرزندان شان را می فروشند.

کارهای نمایشی مثل نامگذاری جاده ها به نام معلولان و یا تجلیل از روزهای معلولان و این و آن، زندگی ناگوار و بی روزگاری مزمن دو درصد معلول افغانستان را نمیتواند تغییر دهد. بهبود زندگی بیش از ششصد هزار معلول به برنامه های راهبردی عملی نیاز دارد، برنامه هایی که زمینهٔ اشتغال زایی و زندگی آبرومندانه را برای آنان فراهم کند، اما تمام این خواستها از دولتی ساخته است که بر پایهٔ ارادهٔ مردم ایجاد شده باشد، نه بیگانگان. معلولان تنها در سایهٔ دولتی میتوانند به حقوق شان دست یابند که در عمل برای رسیدگی به آنان تلاش کند و زمینه را برای سهم گیری فعال، پیگیر و باثبات معلولان در فعالیت های اقتصادی، سیاسی، اجتماعی و فرهنگی آماده کند. ☆

# پیام تبریکی به مناسبت راه اندازی وب سایت «رزمندگان»

## www.razmendagan.com

هیئت تحریر نشریهٔ «پیشرو» به مناسبت راه اندازی وب سایت «رزمندگان» صمیمانه ترین تبریکات و تمنیات خویش را به گردانندگان مبارز آن تقدیم داشته، آرزومند است که در راستای غنی سازی «رزمندگان» موفقیت های هرچه بیشتر را نصیب گردند.

در اوضاعی که افغانستان در آتش جنگ های خانمانسوز توسط کشورهای اشغالگر و متجاوز می سوزد و باشندگان آن در بمباران امریکایی ـ ناتو و حملات انتحاری طالبان تکه و پارچه می شوند، در اوضاعی که بیگانگان، آتش نفاق را بین اقوام ساکن این کشور دامن می زنند که از قرن ها بدینسو در کنار هم در صلح و صفا زیسته اند، در اوضاعی که دولتمردان، جنگسالاران، مافیای مواد مخدر، پولیس، طالب وغیره بر هستی مردم ما خرمستی می کنند، و در اوضاعی که هست و بود کشور ما به سوی نابودی می رود و مادر وطن به حراج رفته است؛ در چنین اوضاعی به راه انداختن وب سایتی از نوع «رزمندگان» برای همه میهن دوستان و مبارزان نویدبخش و الهامبخش است.

در آشفته بازار وب سایت ها که بسیاری از آنها نان را به نرخ روز می خورند یا برای تفنن و گمراه ساختن مردم ایجاد می شوند و یا اهداف خاینانه ای را تعقیب می کنند، جای وب سایت هایی از نوع «رزمندگان» بسا اوقات خالی بوده است، لذا نیاز روزگار خونین کنونی ما می باشد. هیئت تحریر «پیشرو» این اقدام گردانندگان «رزمندگان» را به فال نیک گرفته، راه اندازی آن را گامی جهت بلند بردن سطح آگاهی مردم و ایجاد مقاومت علیه اشغالگران و وضعیت کنونی می داند.

هیئت تحریر «پیشرو» آمادگی کامل خود را به خاطر همکاری با گردانندگان این سایت مبارز اعلام نموده، از هیچ نوع همکاری جهت غنی سازی آن دریغ نمی ورزد و تلاش می نماید تا این سایت را به یکی از سایت های معتبر و آگاهی بخش در جامعهٔ عقبماندهٔ افغانستان مبدل نماید.

موفق و سرافراز باشید.

هیئت تحریر نشریهٔ «پیشرو» ☆

# فرار از کشور با حضور «جامعۀ جهانی» !

بعد از شکست شوروی، عقیده بر آن بود که اضافه از پنج ملیون مهاجر این کشور که در نتیجۀ جنایت و بربریت قشون اشغالگران و حزب «دموکراتیک»، با جبر و تحمیل به خارج از کشور مخصوصاً کشورهای ایران و پاکستان مهاجر گردیده، برخواهند گشت، اما با درد و دریغ که چنین نشد و جنایات هشت ثوری ها وحشیانه تر و خونین تر از هفت ثوری ها صفحات تاریخ ما را با خون توده های زحمتکش و ستمدیده، رنگین ساخته و سیر صعودی مهاجرت ها از هر زمانی بیشتر گردید.

با ورود تنظیم های هفتگانه و هشتگانه به کابل، بوی دود، باروت و خون از هر کوچه پس کوچه به مشام میرسید و به شکل وحشیانه از زمین و آسمان بر سر مردم ستمدیدۀ این شهر، مرمی و بم می بارید و در نتیجه، با شهادت ۶۵ هزار کابلی، شهر به تلی از خاک مبدل گردید. هر خانواده ای که توان مالی داشت شهر را ترک گفت، اما بی چیزترین ها و نادارترین ها ناگزیر همه روزه از یک گوشه به گوشۀ دیگر شهر در حال فرار بودند.

طالبان سمارق وار به کمک آی اس آی بیشتر از ۹۰ فیصد خاک کشور را زیر حاکمیت خود درآوردند، مردم را بر این عقیده بود که از شر تنظیم های جهادی خلاصی یافته و این «فرشته های صلح» باعث خواهند شد تا مردم دوباره به کشور بر گردند، اما این وضعیت با حاکمیت گروه طالبان که عقب مانده ترین و وحشیانه ترین سیاست های تاریخ را در تمامی زمینه ها اختیار کردند و با حکومت ماوارای فاشیستی توده های زحمتکش ما را زیر ظلم و ستم گرفته بودند و برخورد ضد انسانی با زن داشتند، عرصه را بر زندگی توده ها بیش از پیش تنگ و تنگتر ساخته و سیل مهاجرت ها به کشورهای همسایه دوباره شکل صعودی خود را گرفت.



نبود حداقل امکانات زندگی، عدم مصونیت جانی و مالی، نبود شرایط کار برای نیروی کار و فشارهای مضاعف بر انسان ها، ناگزیز مهاجرت های اجباری را به بار می آورد. شرایطی که در جریان سه دهۀ اخیر در نتیجۀ اشغال و مداخلۀ کشورهای همسایه بر مردم زحمتکش و ستمدیدۀ ما جبراً تحمیل گردیده است.

بعد از حادثۀ یازده سپتمبر و ایجاد دولت کنونی از طرف «جامعۀ جهانی» زیر سایۀ سنگین ماشین جنگی ناتو و نزدیک به صد هزار عسکر امریکایی و غیر امریکایی، در اثر تبلیغات وسیع داخلی و خارجی مبنی بر اینکه برای افغانستان «فرصت طلایی» به دست آمده و افغانستان به طرف «شکوفایی» و «پیشرفت» قدم گذاشته، قسماً بین توده های زحمتکش امیدواری ها به وجود آمد و عودت مهاجران به کشور افزایش یافت، اما چندی نگذشت که متوجه شدند این تبلیغات واقعیت نداشته و بیشتر از هر زمانی وضعیت زندگی هموطنان ما سخت و طاقت فرسا گردیده است.

انفجارها و انتحارهای یازده سال گذشته که هر روز جان ده ها تن از ستمدیده ترین و زحمتکش ترین انسان های این کشور را می گیرد، و ده ها تن دیگر را مجروح و معیوب می سازد، یکی از دلایل عمدۀ افزایش مهاجرت ها به خارج از کشور و آوارگی ها از یک گوشه به گوشۀ دیگر در داخل است. ثمرۀ «حضور جامعۀ جهانی»، ماهانه ترک تابعیت ۱۰ تا ۱۵ افغان، سالانه فرار ۵۰ هزار نفر به کشورهای اروپایی، بیجا شدن ۱۶۶ هزار نفر در داخل کشور در سال ۲۰۱۲ و یا به اساس گزارش تحقیق شورای مهاجران مستقر در ناروی آوارگی ۴۶۰ هزار نفر از سال ۲۰۱۱ تا حال است. با این وضعیت نه تنها برگشت مهاجران بیش از سه دهه جنگ و اشغال، امکان ندارد بلکه هر روز خیل عظیمی از مردم یا کشور را ترک می کنند و یا در داخل کشور از یک گوشه به گوشۀ دیگر آواره می گردند.

یکی دیگر از دلایل افزایش مهاجرت نبود حداقل شرایط کار برای نیروی کار است. با مراجعه به دروازه های سفارت خانه های رژیم آخوندی و ولایت فقیه ایران و دولت ضد مردمی پاکستان به وضوح میتوان افزایش این مهاجرت ها را دید. با هر کدام از افرادی که منتظر اخذ ویزه در عقب این سفارت خانه ها تجمع نموده، صحبت کنیم، دلیل مهاجرت خود را نبود امکان کار و زندگی در کشور میداند. با آنکه برخوردهای غیر انسانی و وحشیانۀ نیروی های نظامی دولت های ضد مردمی ایران و پاکستان را با تمام وجود احساس می کنند، اما با آنهم برای ادامۀ حیات خود و پیدا کردن لقمۀ نان به فامیل خود ناگزیر دست به این مهاجرت های اجباری میزنند. البته کسانی که امکانات مالی بیشتر دارند، تلاش می نمایند تا با پرداخت ۲۵ تا ۳۰ هزار دالر امریکایی از راه های غیر قانونی و بسیار خطرناک خود را به یونان رسانده و از آن طریق به کشورهای اروپایی و غیر اروپایی برسند که هر از هر گاه خبر غرق شدن تعداد زیادی از هموطنان ما را می شنویم.

امروز در کشور بی در و پیکر و زخمی ما برای عدۀ معدودی از انسان ها که کمتر از پنج درصد نفوس را تشکیل میدهد از برکت حضور «جامعۀ جهانی» و «فرصت طلایی» تمام امکانات زندگی مهیا گردیده و با استفاده از فساد موجود و همه جانبه در دستگاه دولت، به ثروت های افسانوی و زندگی مرفه و آسوده دست یافته اند، در حالیکه برای اکثریت ۹۵ درصد توده های زحمتکش، ستمدیده و فقیر ما این حضور جهنمی گردیده که هر روز مغز و استخوان آنان را می سوزاند و به خاکستر مبدل می سازد.

نظام حاکم در بخش های اقتصاد و سیاست طوری از طرف تیوریسن های بورژوایی در کشور ما تنظیم و تیوریزه شده که پول و قدرت در یک طرف و فقر و بدبختی در طرف دیگری انباشت گردیده و هر روز فاصلۀ طبقاتی بین اقلیت ثروتمند و اکثریت نادار و فقیر عمیق و عمیقتر می گردد، لذا تا زمانی که پایه های دولت مستقل و مردمی از طرف اکثریت ۹۵ درصد توده های ما بنا نگردد و قدرت سیاسی را به دست نگیرد، رسیدن به زندگی انسانی برای توده های زحمتکش و ستمدیده خواب و خیالی بیش نیست. ☆

# یکاولنگ خون می گرید

**نشریهٔ پیشرو همه ساله در نوزدهم جدی، قتل عام مردم یکاولنگ توسط طالبان فاشیست را به شکلی از اشکال تجلیل می نماید. امسال نیز هیئت تحریر نشریهٔ پیشرو، پوستر رنگهٔ عکس های شهدای یکاولنگ را که بازماندگان آنان فرستاده بودند، چاپ نمود تا سهم خود را در تجلیل از این روز اشک و ماتم اداء نماید. این پوستر در مرکز یکاولنگ زیب دیوارهای گلین خانه های مردم و سالون برگزاری مراسم گردید و با استقبال گرم هموطنان ماتمدار ما مواجه شد.**












## ساطوری از خشم

*داد نورانی*

اگر ٦٠ تن حنا بندان

بر دامنه ی «هسکه مینه» کشته شدند

و یا در «عزیز آباد»

٩٠ تن را در ثانیه یی کشتند

و در «زیر کوه» ٥٩ تن دیگر،

و یا در «زرمت»

زنان را تکه و توته به چاه انداختند

و یا در «نادعلی»

جسد ١٩ تن را به درِ حاکم شهر آوردند

و یا در «خوست»

طفلکان را به سگان لیساندند

قدر این «فرصت» را

فقط «شیرزنی» میداند

وقتی مدالی در «کلیفورنیا»

و یا «لندن» و «سیول» و «فلورانس»

به سینه می آویزد

چه پُر «درد»

با زبانی که عطر حجله وزان میخیزد

پای یک پرچمِ خون

گردنِ دوستی را

«خم و خم و خم» میدارد

و همه کُشت و جنایت را

به مدالی می بخشد.



# احمد کایا، د ترکیې د پرمختللي، ژمن او معترض هنر برمیاله څیره

په داسې حال کې چې نږدې د پنځوسو هیوادونو سرتیري په افغانستان کې وژل او لوټل کوي او زموږ هیوادوال په بېرحمۍ د اسارت په کړیو کې رابنکیل او یرغمل دي، هنر او ادبیات د هر وخت پرتله باید د ولس تر څنګ د جنایتونو او کړاونو په وړاندې ودریږي او د وسلې په توګه د غلیمانو په ضد وکارول شي.

دم مهال په افغانستان کې میشت بهرني سفارتونه د خپلو فرهنګي نوکرانو له لارې مبتذل، شنډ، ارتجاعي او ښکیلاکي فرهنګ، هنر او ادبیات تبلیغوي او د دې چارې لپاره یې څو درجنه تلویزیونونه او لسګونه راډیوګانې او سلګونه چاپي رسنۍ په لاره اچولې دي چې کار یې د ولسونو د ذهنیت مدیریت دی. د دې لپاره چې ولس بوخت وساتي او په شنډ او خنثی فکر او اند یې په اصطلاح سمبال کړي، په دې رسنیزو ښکو کې داسې هنر راخرګندیږي چې د ښکیلاک د تداوم لپاره ګټور تمامیږي. په دې وروستیو کلونو کې ترکي سریالونه چې ارتجاعي ډکون، ماهیت او منځپانګه لري، په تلویزیونونو کې په دري او پښتو دوبلې سره خپریږي چې د شنډتوب، تفنن او تخدیرولو پرته بل پیام او دنده نه لري.

ترکیه، د ناټو په چوکاټ کې د امریکا تر څنګ یولس کاله کیږي چې زموږ په هیواد کې بوخته ده او له جنایتکارو ټوپکمارو څخه هر اړخیزه ملاتړ کوي، څه چې اوس په سوریه کې د ناټویي ښکیلاکګرو تر څنګ ترې ډډه نه کوي. که له یوې خوا په ترکیه کې یو مرتجع دولت واکمن دی چې د ولس ضد دولتونو ملاتړ کوي، له بلې خوا د هیواد ستر انقلابیان، فرهنګیالان، شاعران، هنرمندان او روڼ اندي مبارزان لري چې تل یې د ترکیې د مرتجع حکومت په وړاندې اعتراض کړی او د ولسونو تر څنګ دریدلي دي، چې له دې برمیالیو څیرو څخه یو، احمد کایا دی.

احمد کایا د ترکیې مشهور ترانه ویونکی دی چې په ۱۹۵۷ کال کې د ترکیې د ملاتیا په ښار کې وزیږید. له کوچني والي په کار اخته و او د ویکتور خارا په وینا «له پلار سره اوږه په اوږه په کار کې لوی شو». پلار یې د نساجۍ کارګر و. بیا یې په موټر پلورنځي کې موټرونه پریمنځل. احمد کایا چې د کورنۍ



کوچنی غړی و، په ډېرو ستونزمنو حالاتو کې ژوند کاوه. هغه په خپله ویل چې داسې ډیرې ورځې یې لیدلي چې ان د ښاري بس د ټکټ پیرولو توان یې هم نه درلود.

د کایا زلمیتوب د کنان اورن له کودتا سره برابر و. په دې وخت کې پر ترکیې د ویر او ډار بلا واکمنه وه او هغه په ۱۹۷۷ کال کې د یو کنسرت لپاره په پنځه میاشتو بند محکوم شو. په ۱۹۸۵ کال کې د «ګرانې مه ژاړه» په نامه البوم یې خپور کړ چې د هغه په خپله وینا د هر کلي یې دومره هیله نه درلوده او یوازې موخه یې دا وه چې د خپلو ترانو په وسیله د واکمن وضعیت په اړه خپل اعتراض ولس ته ورسوي. خو د ترکیې قضایي مامورینو د دې البوم د اغیزناکو ترانو خطر احساس کړ او دغه البوم یې د سیاسي ترانو د درلودلو له کبله له بازار څخه راټول کړ. دویم او دریم البومونه یې هم له معترضو ترانو ډک وو. خو دریم البوم یې د «شفق» په نامه د ترانې له کبله چې شعر یې د اولکو تامر و، ده ته شهرت وربه برخه کړ. اولکو تامر، د خپلو سیاسي اندونو له امله هغه وخت د اعدام په انتظار کې و.

کایا په ۱۹۸۷ کال کې د یوسف هایال اوغلو سره آشنا شو او دغه آشنایي د دې لامل شوه چې د کایا په هنري ژوند کې نوی پړاو پیل شي. په دغه وخت کې یې د «پاخیږو» البوم خپور کړ چې ډیر شعرونه یې د اوغلو دي. او په دې ډول د کایا په ترانو کې د اعتراض اړخ لا زیات شو او په پایله کې په ترکیه کې د کلونو لپاره له کنسرت ورکولو څخه محروم شو. هغه په خپله ویل چې داسې یو څه به وکړي چې د مخالفینو له ذهن څخه یې هیڅکله پاک نشي او تل هغوی وځوروي. یوځل یې په تلویزیوني پروګرام کې وویل چې خپل کفن له ځان سره لري او هره شیبه د دې چمتووالی لري چې د آزادۍ په لاره کې قربان شي.

احمد کایا چې په اصل کې کردي و، په خپل یو البوم کې د «کاروان» په نامه یوه کردي ترانه وویله چې دې ترانې د البوم د معرفي په مراسمو کې شور او زوږ رامنځته کړ او ځینو هغه په یو شي او بل شي وویشت او ان د ترکیې مشهورو ترانه ویونکو لکه سردار، ابرو، معزز او... هغه ته سپکې سپورې وویلې او ویې ګواښو. په سبا یې د ترکیې مشهورې ورځپاڼې په لوی تیتر سره هغه بې شرف ونوماوه. کایا د همدې معترضې ترانې لپاره د ترکیې له یوې محکمې لخوا په داسې حال کې چې په پاریس کې و، په لسو کالو غیبي حبس محکوم شو.

د احمد کایا تپانده زړه په ۴۲ کلنۍ کې د ۲۰۰۰ کال د نوامبر په ۱۶ نیټه په پاریس کې ودرید. د هغه مرګ ډیر شکمن و. داسې ښکاریده چې د ترکیې دولت د فرانسې دولت په مرسته هغه د کردانو د ملاتړ په تور، مسموم کړی وي. دغه شک په داسې حال کې چې په ۲۰۱۳ کال کې درې کردي ښځینه مبارزې فعالانې په پاریس کې د ترکیې دولت لخوا ووژل شوې، د پخوا پرتله لا پیاوړی شوی دی.



کایا د ترکیې ولس وسله وه، هغه وسله چې ځلا یې لا د غلیمانو سترګې بریښوي او لکه تندر د واکمنو پر مانۍ راغورځي. کاش زموږ سندرغاړو هم دا شهامت، وجدان او احساس درلودای چې داسې مهال چې ولسونه د بربریت او شناعت له پیر څخه تیریږي او هیواد مو بربادیږي، لر تر لره د هغوی دردونه او کړاونه بې انځور کړي وای، څه چې له بده مرغه څرګ یې په سختۍ موندلی شو.

## دا هم د کایا یوه ترانه:

هغو میندو ته
چې لاسونه یې پر زړونو ایښې
ځواب ورکوم.
له زندانونو خبرې کوم او
له دردونو.
بلوا کوم
ځکه چې له هغه کسانو چې
سرونه یې د خاورو لاندې کړي
ډاریږم.
پاڅون کوم
بربنډوم د لب سیرینو ډکې کوڅې
او پستې دلالانې
هیڅ نوم به مې پر شونډو زمزمه نشي
زه د ولسونو د سیند څپانده څپه یم
هغه مردکی چې پر ولس ډډه کوي.
هی، پاڅون کوم
زما شتون باور کړئ
فریاد ته مې ادامه ورکوم
او له ترلو شویو سترګو
له ممنوعیتونو
له محکومیتونو خبرې کوم.
نه ډاریږم
ځکه چې د ښاپیرک په چیچلو لیونی
شوی یم.
پاڅون کوم
په وینه قسم کوم چې تسلیم به نشم
ملي به نشم.
د ولس له ځنګل څخه غوړیدلی ګل یم
ای بې شرفه دوکه ماره
زه هغه خنجر یم چې د جګړې اعلان
کوي.
هغه مردکی یم چې الوزي
پاڅون کوم، آی ی ی !
زما شتون احساس کړئ !
ای خلکو !

## افغان میرمنی د ...

ضد د تاوتریخوالي تر ډېره حده منل شوې برخه جوړوي.

که څه هم د افغانستان د ښځو زړه بریښوونکې وضعیت یو له هغو لاملونو څخه و چې امریکا او نورو هیوادونو په ۲۰۰۱ کال کې په افغانستان تیری وکړ. د ښځو د حقونو په اړه خبرې کول او اندیښنه څرګندول له ډېرې مودې راهیسې د «نړیوالې ټولنې» او په افغانستان کې دننه د زرګونو غیردولتي سازمانونو له خوا یو مود ګرځیدلی دی. خو دغه په اصطلاح د ښځو د حقونو ملاتړ کوونکې هیڅکله پر ښځو د شویو ظلمونو او تاوتریخوالو بنسټیز او اصلي لاملونه نه ګوته کوي. د دوی په نظر پر ښځو له پیړیو پیړیو راهیسې شوي ظلمونه او تبعیض یوازې جنسیتي بڼه لري او په دې باور دي چې د ریفورم او اصلاحاتو له لارې به دغه تبعیض له منځه ولاړ شي او ورسره به د ښځو ستونزې هم حل شي.

که څه هم د زده کړې ټیټه کچه، بیوزلي، کلتوري دود او باورونه، په ټولنه کې د نارینه واکمني او داسې نور د ښځو په وړاندې په نه باورونکي توګه د ناوړه او په ځینو برخو کې د غیر انساني وضعیت لامل ګرځیدلي، خو پوښتنه دا ده چې په داسې یو هیواد کې چې له دري لسیزو را په دې خوا د جګړو د اور په لمبو کې سوځي او دولس کاله کیږي چې د امریکا په مشرۍ د ناټو د تیري له کبله یې ښځې او نارینه، زاړه او ځوانان او ماشومان هره ورځ له وژل کیدو او سپکاوی سره مخامخ دي، په داسې یو هیواد کې چې زیاتره وګړي یې د بیوزلۍ د کرښې لاندې ژوند کوي، روزګار نه لري، په داسې یو هیواد کې چې لاسپوڅی رژیم په کې واکمن دی او په هر ګوټ کې طالبان، جنګسالاران او نورې جنایتکاره ډلې په کې انډوخر کوي او په داسې هیواد کې چې وګړي یې ورځ تر بلې د بربادۍ خوا ته روان دي او په تیره بیا ښځې یې ځان وژنې ته مجبورې شوې دي، پر ښځو ظلم او د ښځو ستونزې، یوازې جنسیتي بڼه نشي درلودای.

هغه کسان چې د ښځو په وړاندې تاوتریخوالي او ظلم ته یوازې جنسیتي بڼه ورکوي، که وغواړي یا نه، د مسئلې ملي او طبقاتي لاملونه له پامه غورځوي او په دې توګه نه غواړي چې په واکمن سیاسي او اقتصادي نظام کې بنسټیز بدلون راشي او په دې باور دي چې ښځې خپل حقوق به بورژوایي دموکراسی کې لاسته راوړلی شي.

د یوناما د رپوټ پر بنسټ له ۱۳۸۲ تر ۱۳۹۰ پورې د ۱۳۳ ځان سوځونې، ۳۳۳ ځان وژنې، ۵۱۵ قتلونو، ۴۵۱ جنسي تیري، ۴۳۸ له کور څخه د تیښتې، ۴۰ د ښځو قاچاق، ۲۴ اجباري ودونه او د وهلو او ټکولو ۲۳۰۰۰ قضیې ثبت شوي، چې دغه قضیې په ۱۳۹۱ کال کې څو واره زیاتې شوي دي. د روان کال په پیل کې له خلور زره څخه زیاتې د تاوتریخوالي پیښې ثبت شوي. تر ټولو تازه یې په دایکندي کې د پولیسو لخوا پر یوې نجلۍ تیری او په هرات کې د یوې بلې میرمنې وژنه ده.




دا ښکاره خبره ده چې د ښځو د حقونو لپاره د کمپاین په لاره اچول، د ورکشاپونو او سیمینارونو، د قوانینو جوړول او یا بل هر ډول اصلاح او ریفورم که هر څومره ښه او پراخه هم وي، نشي کولای د ښځو په ټولنیز او اقتصادي حالت کې بنسټیز بدلون راولي. دغه ټولې هڅې د دې لپاره دي چې د ښځو له انرژي او پټ پوتانسیل څخه د خپلو موخو او ستراتیژیو لپاره ګټه واخلي. د افغانستان اوسنی حالت په ډاګه کوي چې که له یو پلوه د تیري اصلي او لومړنی قربانیانې زموږ د هیواد ښځې او ماشومان دي، له بل پلوه د ښځو هغه لویه برخه چې په زړه بوږنوونکي اقتصادي حالاتو کې ژوند کوي، له هغې طبقې سره تړاو لري چې د ژوندي پاتې کیدو لپاره، خپل خواک خرڅولو ته اړ شوي او له همدې کبله باید په افغانستان کې د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی او پر هغوی شوی ظلم له دري اړخونو وڅیړل شي: ملي ستم، طبقاتي ستم او جنسیتي ستم. او که د دغو دري ستمونو په ضد مبارزه ونشي، ښځې به ونکړای شي، برابر حقوق او آزادي لاسته راوړي.

☆

## روسیه، مخالف ...

بودند، یکی پی دیگری نیروهای نظامی خود را تا سال ۲۰۱۴ از افغانستان خارج می سازند، اما به اشکال دیگری می خواهند حضور خود را در کشور ما داشته باشند. امریکا به عنوان گردانندۀ اصلی سیاست اشغال افغانستان با حفظ بخشی از نیروهای نظامی خود، حضور فعالش را همچنان حفظ خواهد کرد.

حال که پای امضای پیمان امنیتی میان کابل و امریکا و همچنان مسئله پایگاههای دایمی امریکا در خاک افغانستان مطرح می باشد، دولت روسیه از یکطرف نگرانی خود را از نحوۀ حضور دایمی امریکا مطرح ساخته است و از سوی دیگر با پیش گذاشتن پا برای بازسازی پروژه های روسی، مانند سیلوها، تصدی خانه سازی، خانۀ علم و فرهنگ، شاهراه سالنگ و نظایر آن، می خواهد نقش فعالتری را در افغانستان ایفا کند.

روسیه به خوبی می داند که حضور پایگاهـای دایمی امریکا در افغانستان محدود به کشور ما نمانده بلکه اهداف ستراتیژیک و منطقوی خود را دنبال خواهد کرد و این برای روسیه ای پس از بحران و در حال رشد قابل قبول نیست، به خصوص که اکنون روسیه در پیمان شانگهای، چین را نیز در کنار خود دارد که یک قدرت نظامی ـ اقتصادی است.

روسیه بارها از امریکا و ناتو خواستار شفاف سازی برنامه‌های خود در افغانستان از جمله خروج نیروهای خود پس از سال ۲۰۱۴ شده است و بارها در مورد ادامۀ حضور نظامی امریکا در افغانستان ابراز نگرانی کرده است. همچنان ویکتور ایوانوف رئیس سازمان فدرال مبارزه با مواد مخدر روسیه، امریکا و ناتو را متهم می سازد که در مبارزه علیه مواد مخدر تلاش لازم به خرج نمی دهد و این کندی در فعالیت، روسیه را وامیدارد تا خود وارد مبارزه با مواد مخدر در افغانستان شود.

به گفتۀ ایوانوف، سالانه در افغانستان ۱۳۰ هزار هکتار زمین زیر کشت کوکنار میرود که ۵۰ درصد تولید حاصله از آن از مسیر آسیای مرکزی و روسیه به سمت اروپا قاچاق می شود. ایوانوف می گوید، در ده سال گذشته افزایش تولید و قاچاق مواد مخدر در افغانستان ۴۰ درصد افزایش داشته که باعث افزایش معتادان در روسیه نیز شده است.

حضور دایمی امریکا در افغانستان میتواند باعث نگرانی و تحریک بیشتر قدرت های بزرگ منطقه گردد که دارای سلاحهای هستوی و قدرت روز افزون نظامی ـ اقتصادی میباشند. تبدیل شدن افغانستان به کانون این اختلافات میتواند وضعیت منطقه را بیش از پیش متشنج و این کشورها را به سوی رویارویی نزدیکتر سازد. و در نهایت این افغانستان خواهد بود که بار دیگر در محراق تضادهای جهانی امپریالیست ها در آتش بسوزد و خاکستر شود.

☆

## فرانسوي یرغلګران د ...

فرانسې دغه خونړۍ جګړه د »القاعدې سره د جګړې« په نوم پیل کړې ده، هغه »القاعده« چې فرانسه ورسره ملګرتیا لري. ارنست وولف او الکساندر لانتیه »د مالي شمال ته د فرانسې لښکر کاږل او په بمباریو کې د بې دفاع خلکو وژل« مقاله کې چې د نړیوال کیدو د مطالعې مرکز لخوا خپره شوې، لیکلي دي چې »له القاعدې سره د د موکراسۍ د دفاع لپاره د فرانسې ادعا شوی جګړه، بې له دې چې د خپلو بنسټیزو ګټو په اړه فکر وکړي، سوچه دروغ دي. لومړی باید پوه شو او یادونه وکړو چې فرانسه د القاعدې په اړه هیڅ کوم اصولي دریځ نلري. په ۲۰۱۱ کال کې په لیبیا کې جهاد غوښتونکو ډلو د پاریس او د ناټو تر څنګ د قذافي رژیم ړنګ کړ او پاریس تل د النصرت له جبهې څخه چې د القاعدې یوه څانګه وه، ملاتړ کړی چې همدا اوس په سوریه کې د ناټو لخوا په نیابتي جګړې کې د بشارالاسد د ړنګیدو لپاره جنګیږي.«

دا ښکاره کوي چې »القاعده« له نیواکګرو ستره ستراتیژیکه ملګرې ده او دا »ونډه یز شرکت« د بیلابیلو امپریالیستي هیوادونو لخوا د خپلو تاړاکګرو موخو لپاره کارول کیږي، څه چې په افغانستان کې په څرګند ډول لیدل کیږي. د فرانسې ښکیلاکګري موخې په مالي کې د طبیعي زیرمو او کانونو تر څنګ د دې هیواد جیوپولتیک موقعیت کارونه ده. مالي د طلا او یورانیمو بډایه کانونه لري، په ورته وخت کې د لودیځې افریقا په زړه کې موقعیت لري چې له نایجریا سره ګډه پوله لري، هغه نایجریا چې د فرانسې »آروا« هستوي شرکت له ۱۹۶۸ کال راپدیخوا ۱۰۰ زره ټنه یورانیم ترې استخراج کړي دي.

د فرانسې ولسمشر ویلي دي چې »تروریستان باید پوه شي چې فرانسه نه د خپلو بنسټیزو ګټو لپاره، بلکې د خلکو او د مالي خلکو د حقونو د دفاع لپاره چې په آزادۍ او دموکراسۍ کې د ژوندانه غوښتونکي دي، تل چمتو ده چې عمل وکړي.« خو دغه برید د فرانسوا هولاند د هغه سیاست په سیوري کې پیل شوی چې په سیالیزه بازار کې د دې هیواد ځایتون موندنه نومول شوې ده، هغه سیاست چې پر مالي له برید څو ګړۍ وروسته له سندیکاګانو سره شریک شو او د سندیکاګانو اربابانو هوکړه وکړه چې فرانسې ته باید اجازه ورکړای شي څو په سیالیزه بازار کې بیا خپل ځای پیدا کړي، هغه سیالیزه بازار چې د ښکیلاک او تاړاک سیالي په کې روانه ده او د میلیونونو زیارکښو انسانانو د وینو په تویولو سره ځایونه په کې موندل کیږي.

دغه جګړه چې د کورنۍ جګړې له لارې پیل شوې ده او تر اوسه یې څه باندې ۴۵۰ زره کسان کډوال کړي دي، د فرانسې دولت امپریالیستي ګانګستریزم ښکاره کوي چې د وژلو، کډوالۍ، بیوزلي، اسارت، ناروغي، بدلمني او نورو ناخوالو پرته بله پایله نلري، څه چې امریکا، فرانسې او نورو ناټویي ځواکونو زموږ په هیواد کې خلکو ته ورپه برخه کړي. ☆

## د خپلواکۍ په نشتون ...

لیږي او ملتونه د غم په ټغر کښینوي، یو تر ټولو تریخ واقعیت دا دی چې هغه هیوادونه چې د افریقا د لویې وچې د کنګو په شان چې د نړۍ د الماسو ستر تولیدونکی هیواد دی، د نړۍ د بې وزله هیوادونو په ډله کې راځي او د کورنۍ جګړې د اور په لمبو کې سوځي. په تیرو لسو کلونو کې د کنګو د دموکراتیک جمهوریت نږدې دوه ملیون وګړي د کورنۍ جګړې له امله وژل شوي او د ملیشه او ملګرو ملتونو د سوله ساتو ځواکونو په لاس پر کنګویي ښځو دومره تیری کیږي چې دې هیواد ته د جنسي تیري د پایتخت نوم ورکړل شوی دی. خو دا ترخه خبرونه د نړۍ د رسنیو په راپورونو کې ځای نه مومي ځکه چې کنګو نه د امریکا سنډې هوک دی او نه هم د بریتانیا د ملِکې د لمسي د واده رنګین مراسم. همدا شان عراق د خپلو تیلو د اور په لمبو کې لو لپه کیږي. مستبد صدام حسین د خپلې دیرش کلنې واکمنۍ په موده کې د اروپا او په ځانګړې ډول د فرانسې له هر ډول مرستې څخه برخمن و په دې شرط چې فرانسه د عراق د تیلو په غارت کې آزاد لاس ولري او بیا د همدې تیلو د حرص لپاره د هالي برتن پنتاګون پر عراق برید وکړ چې دا لسم کال دی چې ولس یې په خپلو وینو کې لمبیږي. فرانسې هم په دې وروستیو کې د مالي هیواد د سرو زرو پر زیرمو سترګې سرې کړې وې، له دې کبله یې ورباندې برید وکړ څو د دغه بیوزلي هیواد ولس چې د نړۍ له لسو بیوزلو هیوادونو څخه دی، نورهم وځپل شي.

له بل پلوه آی ام اف او نړیوال بانک چې د پانګوالو په استازیتوب د بې وزله هیوادونو په لوټولو بوخت دي، د خپلو لاسپوڅو له لارې هڅه کوي چې په هغه هیوادونو کې چې طبیعي زیرمې لري، د کورنۍ جګړې اور بل کړي او د تجزیې ګړنګ ته یې ورټیل وهي. ځکه چې په دې توګه توانیدلی شي چې د ځایي جنګسالارانو په تطمیع سره طبیعي زیرمې پرته له خنډ او ځنډ په ډیره ارزانه بیه لوټ کړي.

د دې لپاره چې د افغانستان په شان د طبیعي زیرمو له پلوه بډای هیوادونه برلاسي شي چې د طبیعي زیرمو د استخراج له لارې ولسونه یې سوکاله شي، په لومړي سر کې باید د نیواکګرانو او د هغوی د لاسپوڅو استازو څخه خلاصون ومومي، د استعمار او استبداد پیټې له اوږو ښکته وغورځوي تر څو د ولسي او ولسواکه حکومت تر مشرۍ لاندې دسولې او سوکالۍ سرمنزل ته ورسیږي او خپل ټول مادي او معنوي امکانات د یوې انساني ټولنې د جوړولو په لاره کې وکاروي. ☆

## امنیتي تړون» د...

د لاسته راوړلو لپاره تر سره شوي، د میلیونونو بیوزلو انسانانو وینې یې تویې کړي او د هیوادونو خپلواکي یې له منځه وړلې ده. همدا اوس د امریکا متحده ایالتونه د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د ۸۰۰ په شاوخوا کې پوځې اډې لري او د دوه میلیونو په شاوخوا کې سرتیري یې په دغو اډو کې پراته دي، څو د امریکا ګټې خوندي کړي او د خطر په صورت کې په څو ساعتونو کې د نورو هیوادونو په کورنیو چارو کې لاسوهنه وکړي.

افغانستان هم چې د دغه زبرځواک د آسیایي ستراتیژۍ یو تر ټولو مهمه سیمه او مهم هدف دی، د امریکایي سرتیرو اوږدمهال شتون ته اړتیا لري. دغه اوږدمهال شتون که په »قانوني« ډول وي، هم به »مشروعیت« ولري او هم به سرتیري په خپلو اډو کې په ډاډه زړه پراته وي، خو هغه څه چې به بیوزلي افغانان له دغه »تړون« څخه تر لاسه کړي، هغه به د مستبدو واکمنانو او خاینو مشرانو او چارواکو زورزیاتی وي چې د قانون او بهرنیو سرتیرو په ملاتړ به د خلکو وینې تویوي او ژوند به یې له لازیات ګوابښ سره مخامخوي.

په تیرو یولسو کلونو کې د امریکایي او نورو بهرنیو سرتیرو شتون په افغانستان کې په ډاګه کړه چې ستر پانګه وال هیوادونه یوازې خپلې ګټې په پام کې نیسي او چمتو دي د دغو ګټو د خوندي کولو یا لاسته راوړلو لپاره هیوادونه په کنډوالو بدل کړي. دغو سرتیرو او پوځي ځواکونو په تیرو یولسو کلونو کې زرګونه بې ګناه افغانان وژلي، د هغوی پر ختینو کورونو یې بمونه غورځولي، ودونه یې ورله په وینو لړلي، کروندې او بڼونه یې ورله ویجاړ کړي، په بند کې یې اچولي، په سپیو یې داړلي، د هغوی سپکاوی یې کړی، او داسې نور. په همدې اساس زموږ ځوریدلی ولس په هیڅ ډول نه غواړي چې امریکایي ځواکونه په افغانستان کې اډې ولري او افغان وژنې ته دوام ورکړي.

له امریکاییانو سره د »امنیتي تړون« لاسلیک کول نه یوازې خلکو ته سوکالي راوستلی نشي، بلکې د اسارت کړۍ زموږ د کړیدلي ولس په غاړه لا نوره هم ټینګوي او د خلکو بدبختۍ او کړاونه لازیاتوي، ځکه هیڅ پیشو د خدای د رضا لپاره موږک نه نیسي ! ☆

# PESHRAW

Founder: Daad Noorani

February 2013 www.peshraw-af.blogspot.com Issue No (46)


**سخت است فهماندن چیزی به کسی که در قبال نفهمیدنش پول می گیرد.**

احمد شاملو



# فرانسوي یرغلګران د افغانانو تر څنګ د مالي ولس بمباروي

د فرانسي لوټمار او نیواکګر دولت یولس کاله کیږي چې زموږ پر ستمځپلي هیواد بمباري کوي او د دې یرغلګرو او تاړاکګرو بمونه هره ورځ افغان ولس سوځي او تري تم کوي. یولس کاله، دغه ستمګر دولت د امریکا د متیازنو سرتیرو تر څنګ زموږ په دردیدلي ټاټوبي کې «د ترهګرۍ ضد» او «بشري حقوقو» لپاره د «مبارزې» تر نوم لاندې، خلک وژني، او زموږ کلي او باڼدې، دښتې او بیدیا یې په سوځیدلو ځمکو بدلې کړي دي.

پانګوال دولتونه تل له اقتصادي کړکیچونو سره مخامخ وي او دغه کړکیچونه یوازې هغه وخت حل کیدای شي چې پانګوالان په نړۍ کې یو نوی اقتصادي انډول رامنځته کړي، او دغه انډول د جګړې، وژلو، لوټ، تالان او تاړاک پرته نه رامنځته کیږي. د همدې لپاره نړۍ یو ځل بیا باید د نویو راڅرګند شویو پانګوالو دولتونو او د پخوانیو پانګوالو دولتونو تر منځ چې په نړۍ اربابي چلوي، وویشل شي، او دا ویشل له جګړې پرته او هغه هم له خونړۍ جګړې پرته شوني نه دي.

فرانسه چې په تیر وخت کې د لویو ښکیلاکمینو څښتن وه، یو ځل بیا په لټه کې ده چې خپلې پخوانی ښکیلاکمینې تر لاسه کړي. د افغانستان په ښکیلاکګرې جګړې کې د بوختیا تر څنګ، فرانسې د لیبیا ښکیلاکګره جګړه په لاره واچوله او اوس یې په مالي کې د وینو ویاله جوړه کړې ده. مالي چې د افریقا په وچه کې د کانونو بډایه هیواد دی، د ۱۸۹۲ ـ ۱۹۶۰ کلونو تر منځ د فرانسې ښکیلاکمینه وه. په اته شپیته کلونو کې د فرانسي لوټمارو واکمنو طبقو د مالي ولس وزبیښنو، د هغوی هیواد یې تالان کړ او په دې بیوزله ټاټوبي کې یې له هیڅ ډول تیري او ظلم څخه ډډه ونکړه.

اوس چې بیا د نیواکګرو تر منځ د نړۍ ویش پیل شوی، فرانسه هم د دې ویش یو لوبغاړی دی چې له ټولو تضادونو سره سره په ټولیز ډول د امریکا تر څنګ دریدلي او په یوه ډول د چین او روسیې ګټې ګواښي. دې لوټمار دولت د «القاعدې سره د جګړې» په پلمه د مالي بمبار پیل کړی او خپل سرتیري یې هم په دغه هیواد کې پلي کړي څو د مالي د ولس ضد او چوپړي دولت سره مرسته وکړي. امریکا، بریتانیا، المان او اروپایي ټولنې له دې یرغل څخه ملاتړ کړی او د ملګرو ملتونو د امنیت شورا هم د تل په شان، د پریکړه لیک په صادرولو سره د دې جنایتکارو سرتیرو لاس په بمبارۍ، تیري او وژنې کې خلاص پریښودی دی او بې ځایه نه ده چې د ګاو ښار یو تن مالي چارواکی چې د «تروریستانو»مخالف هم دی، نیویارک ټایمز ته ویلي دي چې «روغتونونه په بشپړه توګه ډک دي. د ښار دوه سړې خونې له جسدونو ډکې شوې دي.» په همدې حال کې بي بي سي راډیو هم راپور ورکړ چې د جنورۍ په دولسمه نیټه، فرانسوي سرتیرو ۱۲۰ تنه په مالي کې ووژل.

۷ مخ

# د خپلواکۍ په نشتون کې طبیعي زیرمې د هیواد د بربادۍ سبب کیږي

افغانستان په خپلې سینه کې د طبیعي زیرمو له پلوه ډیر بډای دی خو ولس یې د نړۍ یو تر ټولو بې وزله او لالهانده ولس دی داسې چې زموږ د هیواد نوم تل له لوږې، تندې، دربدرۍ، ناروغۍ او کړاونو سره غوټه شوی دی.

په څو وروستیو کلونو کې چې د افغانستان د طبیعي زیرمو په اړوند سروې ګانې ترسره شوي دي دا په ګوته کوي چې زموږ هیواد څه باندې ۱۴۰۰ ډوله طبیعي مواد لري چې په سر کې یې مس، وسپنه، سره، سپین زر، د ډبرو سکاره، تیل او کریمه احجار راځي او په ډله کې د یورانیم او لیتیوم په شان عناصر هم راځي چې د ټکنالوژۍ په ډګر کې ورځ تر بلې ډیر کارول کیږي.

زموږ ولس چې له هرې سوړې مار چیچلی دی، او هر څه یې د لوټمارو جنګسالارانو، نیواکګرانو او یا پردي پالو عناصرو لخوا برباد شوي دي، له بده مرغه نشي کولای چې حتی د داسې بډایه طبیعي زیرمو په هکله چې ارزښت یې یو درې تریلیون ډالره اټکل کیږي، د هیلې احساس وکړي او د وګړو پر شونډو یې موسکا راخپره شي.

په داسې حال کې چې دولت په اصطلاح په دې لټه کې دی چې د افغانستان د معدنونو د تفحص او استخراج لپاره بهرنۍ کمپنۍ وهڅوي، خو د نړۍ د نورو بې وزله خو په طبیعي زیرمو بډایه هیوادونو تجربو ته په پام سره بهرنۍ کمپنۍ د افغانستان په تالان کې خپله بوټۍ وګټي، بهرني ځواکونه د ګڼ شمیر راپورونو له مخې د هیواد په ګوټ ګوټ کې د کمیابه خاورو او د یورانیوم په څیر نورو عناصرو په راټولولو او بهر ته په انتقالولو بوخت دي.

تر اوسه چین د لوګر د عینک په ژړو )مس( کې چې ویل کیږي د اویا ملیارد ډالرو په ارزښت زیرمه لري، د څه باندې څلور ملیارد ډالرو په ارزښت پانګونه پیل کړې او هند هم د بامیان د حاجي ګک د وسپنې په برخه کې پانګونې ته لیوالتیا ښودلې ده. د شبرغان د نفتو د تصفیې په موخه هم په پام کې ده چې یوه کمپنۍ په نږدې راتلونکې کې فعالیت پیل کړي. د کونړ، بدخشان او پنجشیر زمرد، لاجورد او بیروج له پخوا د زورواکو لخوا لوټیږي.

سرکاري رسنۍ چې د وظیفې له مخې باید هر څه ګلِ ګلزار وښیي، د معدنونو په تړاو هم خپله دنده ګڼي چې د افغانستان زیارکښانو ته چې د پولې پړک ته ناست دي، زیرې ورکړي چې که «امنیت څه نا څه ښه شي او یوه ډله فني پرسونل وروزل شي» نو افغانستان به د آسیا سویس شي.

په دې نړۍ کې چې پانګوال د سود او ګټې د زیاتولو لپاره د جګړو اور ته لمن وهي او د نړۍ هر ګوټ ته لښکرې

۷ مخ



**یک سرباز امریکایی در اعتراض به جنایات دولت امریکا در کشورهای مختلف، مدال خود را با تنفر و خشم، از سینه اش می کند، زیرا آن را مایهٔ شرم می داند، اما بدبختانه کسانی که از مردم، آزادی، حقوق بشر، حقوق زن، دموکراسی وغیره در افغانستان صحبت می کنند و رف های الماری های خود را با مدال های اشغالگران جنایتکار پر نموده اند، چرا به مدال هایی که از دستان خونین جنایتکاران دریافت کرده اند، چنین برخوردی نمی کنند و این شهامت و جرئت را ندارند؟**